د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 516**

(01 - 04 غبرګولی 1405 هـ ش)

## د فارس خلیج د انرژۍ په نظم کې بدلون؛ له اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو عواملو ته کتنه

---




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د فارس خلیج د انرژۍ په نظم کې بدلون؛ له اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو عواملو ته کتنه ....... 3
- د اوپیک رامنځته کېدل او د نړیوال اقتصاد په نظام کې یې رول ....... 3
- په اوپیک کې د متحده عربي امارات ځای او د نړۍ د تېلو اقتصاد ....... 5
- د اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو لاملونه ....... 6
- د متحده عربي اماراتو وتل او د اوپیک او نړیوال انرژۍ بازار لپاره د هغې پایلې ....... 9
- پایله ....... 10
- سرچینې ....... 11


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د فارس خلیج د انرژۍ په نظم کې بدلون؛ له اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو عواملو ته کتنه

### سریزه

اوپیک له شپږو لسیزو راهیسې د نړۍ د انرژۍ د نظام یو له مهمو لوبغاړو او د صادروونکو هېوادونو د تېلو پالیسیو د همغږۍ لپاره یو بنسټیز سازمان پاتې شوی دی. دې سازمان نه یوازې د تېلو د عرضې او بیو په تنظیم کې محوري رول لوبولی، بلکې د نړۍ د جیوپولیټیکي او اقتصادي معادلو یو مهم اړخ هم گرځېدلی دی. سره لدې، په نړیوال انرژۍ بازار کې جوړښتي بدلونونه، د نوو لوبغاړو راڅرگندېدل، په متحده ایالاتو کې د شیل نفتو تولیداتو زیاتوالی[1] او د غړو هېوادونو د اقتصادي لومړیتوبونو بدلون په تدریجي ډول د اوپیک دودیز یووالی له ننگونو سره مخ کړی دی.

په همدې حال کې، د خلیج فارس د تېلو له مهمو تولیدوونکو هېوادونو له ډلې متحده عربي امارات، په وروستیو لسیزو کې د اوپیک د ډېري دودیزو غړو په پرتله مختلفه پالیسي خپله کړې ده. ابوظبۍ د نفتو په بازار کې د خپل ځای د ساتلو ترڅنگ هڅه کړې چې خپل اقتصاد متنوع کړي او د نفتو پر عوایدو تکیه راکمه کړي. د اقتصادي جوړښت او پراختیایي ستراتیژیو په برخه کې همدغه بدلون، په تدریجي ډول د اماراتو د گټو او د اوپیک د دودیزو پالیسیو ترمنځ واټن رامنځته کړ؛ هغه واټن چې بالاخره له سازمان څخه د دې هېواد د وتلو په پرېکړه کې څرگند شو.

دا لیکنه هڅه کوي چې د نړۍ د انرژۍ په نظام کې د اوپیک د مقام، د نفتو په بازار کې د اماراتو رول، له اوپیک څخه د دې هېواد د وتلو سیاسي او اقتصادي عوامل او د نړیوال انرژۍ بازار لپاره د دې پرېکړې احتمالي پایلو ته تحلیلي کتنه وکړي.

### د اوپیک رامنځته کېدل او د نړیوال اقتصاد په نظام کې یې رول

د تېلو صادروونکو هېوادونو سازمان (OPEC) په ۱۹٦۰م کال کې د ایران، عراق، کویټ، سعودي عربستان او وینزویلا له خوا په بغداد کې تاسیس شو.[2] د دې سازمان د جوړېدو بنسټیز عامل د تېلو تولیدوونکو هېوادونو نارضایتي وه؛ ځکه لویو لوېدیځو نفتي شرکتونو د نفتو بیې او د تولید اندازه د تولید کوونکو دولتونو سره له مشورې پرته ټاکله. په حقیقت کې دغو هېوادونو غوښتل د یوه گډ سازمان په جوړولو سره له خپلو اقتصادي گټو دفاع وکړي، د نفتو بیې ثابتې وساتي او د لوېدیځو شرکتونو د نفوذ پر وړاندې لا ډېره خپلواکي ترلاسه کړي. وروسته متحده عربي امارات، قطر، الجزایر، لیبیا او نایجریا په څېر نور هېوادونه هم اوپیک ته ورگډ شول او دا سازمان د نړۍ تر ټولو لوی نفتي ائتلاف وگرځېد.[3]


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

البته اوپیک له پیله یوازې یو خالص اقتصادي سازمان نه و، بلکې سیاسي اړخ یې هم درلود. د دې سازمان غړي پوهه شوي وو چې نفت د نړیوال نظام په چوکاټ کې د ځواک او نفوذ وسیله ګرځېدلی شي. د اوپیک تر ټولو مهم هدف د غړو هېوادونو د نفتي پالیسیو همغږي کول او د نفتو د بیو د سقوط مخنیوی و. له همدې امله اوپیک هڅه وکړه چې د غړو هېوادونو د نفتو د تولید اندازه تنظیم کړي، څو د عرضې او تقاضا ترمنځ توازن وساتل شي. دې پالیسی د نفت لرونکو هېوادونو عواید زیات کړل او هغوي ته یې په نړیوال اقتصاد کې فعاله ونډه ورکړه. په راتلونکو لسیزو کې اوپیک د لوېدیځ اقتصادي سلطې پر وړاندې د مخ پر ودې هېوادونو د همکارۍ په نښه بدل شو.[4]

د اوپیک اصلي ځواک په ۱۹۷۰ لسیزه کې څرګند شو، کله چې په ۱۹۷۳ کال کې د نفتو بحران رامنځته شو. د عربو او اسرائیلو له جګړې وروسته، عربي نفت صادروونکو هېوادونو پرېکړه وکړه چې د اسرائیلو څخه د امریکا او لوېدیځ د ملاتړ په غبرګون کې د نفتو صادرات کم کړي. دې کړنې په لږ وخت کې د نفتو بیې څو برابره لوړې کړې او د لوېدیځ اقتصاد یې د انرژۍ له سخت بحران، انفلاسیون او اقتصادي رکود سره مخ کړل.[5] دغه بحران وښودله چې تېل یوازې اقتصادي توکي نه دي، بلکې په سیاسي او جیوپولیټیکي وسله هم بدلېدلی شي. له بلې خوا، د خلیج فارس د نفتي هېوادونو عواید په بې‌ساري ډول لوړ شول او هغوي وتوانېدل چې ستر اقتصادي او عمراني پروژې پیل کړي.

د نفتو د بازار د کنټرول لپاره د اوپیک یو مهم ابزار د تولید د برخو سیستم و. د دې سیستم له مخې، هر غړي هېواد ته د نفتو د تولید مشخصه اندازه ټاکل کېده، څو د عرضې له زیاتوالي او د بیو له سقوط څخه مخنیوی وشي.[6] خو د برخو ټاکلې اندازه پلي کول تل اسانه نه و، ځکه ډېري هېوادونه د لا زیاتو عوایدو لپاره کله ناکله له ټاکل شوې اندازې زیات تولید کاوه.[7] د غړو هېوادونو ترمنځ سعودي عربستان د اوپیک په رهبرۍ کې اساسي رول درلود، ځکه تر ټولو لوی د تولید ظرفیت او د نفتو زیرمې یې لرلې او کولای یې شول د خپل تولید په کمولو یا زیاتولو سره د نفتو پر نړیوالو بیو اغېز وکړي.[8] له همدې امله سعودي عربستان په عملي ډول د اوپیک غیر رسمي مشر بلل کېده.

د یوویشتمې پېړۍ له لومړۍ لسیزې وروسته، اوپیک له نوو ننګونو سره مخ شو. تر ټولو مهمه ننګونه په متحده ایالاتو کې د شیل تېلو د تولید زیاتوالی و، چې د نړیوال بازار په برخه کې یې د اوپیک ونډه کمه کړه.[9] د دې حالات د مقابلې لپاره اوپیک له غیر غړو هېوادونو، په ځانګړي ډول روسیې، سره خپله همکاري پراخه کړه او په ۲۰۱٦م کال کې د «اوپیک پلس» ائتلاف رامنځته شو. دې همکارۍ د تېلو سترو تولیدوونکو هېوادونو ته زمینه برابره کړه چې د بازار د مدیریت او د بیو د سخت سقوط د مخنیوي لپاره لا همغږي عمل وکړي. خو د اوپیک پلس د غړو ترمنځ سیاسي اختلافاتو او د ګټو سیالۍ څو ځله د دې ائتلاف یووالی له ګواښ سره مخ کړی دی.[10]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لکه څنګه چې ښکاري، نن ورځ د اوپیک دودیز نفوذ د تېرو لسیزو په پرتله کم شوی دی. د تجدید وړ انرژیو سرچینو پراختیا، د برقي موټرو زیاتوالی، د انرژۍ په نړیوال بازار کې د سیالۍ پراخېدل او د امریکا او کاناډا په څېر هېوادونو له خوا د نفتو تولید، د اوپیک هغه وړتیا چې بازار په بشپړ ډول کنټرول کړي محدوده کړې ده. سربېره پر دې، د غړو هېوادونو ترمنځ داخلي اختلافاتو، په ځانګړي ډول د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو سیالۍ، د دې سازمان پر یووالي اغېز کړی دی. له همدې امله، که څه هم اوپیک لا هم د نړیوال نفت بازار یو له مهمو لوبغاړو څخه ګڼل کېږي، خو نور د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ لسیزو مطلق ځواک نه لري او د نړۍ د انرژۍ په نوي نظام کې له سختو ننګونو سره مخ دی.[11]

## په اوپیک کې د متحده عربي امارات ځای او د نړۍ د تېلو اقتصاد

متحده عربي امارات د فارس خلیج له مهمو تېل لرونکو هېوادونو څخه دی او د نړۍ د انرژۍ په بازار کې یو اغېزمن لوبغاړی بلل کېږي. دا هېواد په ۱۹٦۷م کال کې اوپیک (OPEC) سره یوځای شو او له هغه وخت راهیسې تر اوسه پورې د دې سازمان د تېلو په پالیسیو کې مهم رول لري. د اماراتو د تېلو او ګازو زیاته برخه په ابوظبۍ کې موقعیت لري او همدې مسئلې ابوظبۍ د دې هېواد د انرژۍ د پالیسۍ ټاکلو اصلي مرکز ګرځولی دی. امارات د پراخو تېلو او طبیعي ګازو زېرمو په لرلو سره، د سعودي عربستان او کوېټ تر څنګ د فارس خلیج د انرژۍ د تولید له مهمو ستنو څخه شمېرل کېږي. د فارس خلیج ترڅنګ د دې هېواد جغرافیایي موقعیت او د انرژۍ د لېږد له مهمو لارو سره نږدېوالی هم د هغه ستراتیژیک ارزښت لا زیات کړی دی.[12]

د نړۍ د تېلو په بازار کې د اماراتو رول زیاتره د ابوظبي د ملي تېلو شرکت (Abu Dhabi National Oil Company – ADNOC) له لارې عملي کېږي، چې د نړۍ له سترو دولتي تېلو او ګازو شرکتونو څخه شمېرل کېږي. دا شرکت د اماراتو د تېلو د استخراج، تولید، تصفیې او صادراتو مسئولیت لري او په وروستیو لسیزو کې یې هڅه کړې چې د پرمختللو ټکنالوژیو او له نړیوالو شرکتونو سره د همکارۍ له لارې د انرژۍ په بازار کې د اماراتو ځای پیاوړی کړي. ابوظبي د لوړ تولیدي ظرفیت او د صادراتو د چټک زیاتوالي وړتیا له امله، د اوپیک په ډېرو پرېکړو کې مهم رول لري. د دې ترڅنګ، اماراتو د بندري زېربناوو، لېږدلارو او تصفیه ځایونو په پراختیا کې پانګونه کړې، څو ځان د نړۍ د انرژۍ د سوداګرۍ د مرکز په توګه تثبیت کړي. سره له دې چې امارات په تاریخي ډول پر تېلو متکي هېواد دی، خو د سیمې د ډېرو نورو تېل لرونکو دولتونو په خلاف، له څو لسیزو راهیسې د اقتصادي تنوع تګلاره تعقیبوي. ځکه د تېلو د نرخونو بدلون کولی شي اقتصادي ثبات له ګواښ سره مخ کړي. له همدې امله امارات په بېلابېلو برخو لکه نړیواله سوداګرۍ، ترانسپورت، بانکدارۍ، ګرځندوی، ټکنالوژۍ، هوایي چلند او مالي خدماتو کې پراخه پانګونه کړې ده. د دوبۍ ښار د منځني ختیځ له مهمو سوداګریزو او مالي مرکزونو څخه ګرځېدلی او د اماراتو اقتصاد په تدریجي ډول له پر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تېلو پورې تړلې حالت څخه وتلی دی. دا اقتصادي بدلون د دې لامل شوی چې د اماراتو ګټې د اوپیک له ځینو دودیزو غړو څخه توپیر پیدا کړي.[13]

له همدې امله، ځینو شنونکو ویلي چې د اماراتو اقتصاد نن ورځ تر ډېره د لوړو د تېلو د نرخونو پر ځای د نړیوال اقتصاد، نړیوالې سوداګرۍ او بهرنۍ پانګونې پر بهیر پورې تړلی دی. په داسې حال کې چې ځینې اوپیک هېوادونه د تېلو د نرخونو لوړوالي ته زیاته توجه کوي، اماراتو ډېرې وخت داسې پالیسۍ غوره کړې چې د نړیوال بازار دوامداره وده تضمین کړي.[14] دا د نظرونو توپیر ورو ورو د اماراتو او د اوپیک د دودیزو لارو تر منځ واټن رامنځته کړ، چې وروسته د ۲۰۲۱م کال وروسته د سهمیه بندۍ په شخړو کې هم څرګند شو.[15] په وروستیو کلونو کې د اماراتو د انرژۍ تګلاره یو نوي پړاو ته ننوتې ده. دا هېواد په یو وخت کې دوه لوري تعقیبوي: له یوې خوا د خپلو تېلو د تولید د ظرفیت زیاتول غواړي او له بلې خوا په نوې کېدونکې انرژۍ سرچینو کې ستره پانګونه کوي. امارات په لمریزې انرژۍ او پاکو ټکنالوژیو کې ستر پروژې پیل کړې او هڅه کوي ځان په سیمه کې د راتلونکې انرژۍ په یو مخکښ هېواد بانديې بدل کړي.[16] د نړیوالو اقلیمي غونډو کوربتوب او د انرژۍ ټکنالوژۍ په شرکتونو کې پانګونه هم د همدې ستراتیژۍ برخه ده. دا سیاست ښیي چې امارات هڅه کوي د اوسنې تېل‌محوره اقتصاد او د راتلونکي نړیوال اقتصاد د غوښتنو تر منځ توازن وساتي.

بې له شکه د اماراتو د تېلو د پالیسۍ له مهمو محورونو څخه د تولید د ظرفیت زیاتول دي. اماراتو په وروستیو کلونو کې د تېلو د میدانونو د پراختیا او د تولیدي وړتیا د لوړولو لپاره میلیاردونه ډالر پانګونه کړې ده او تل هڅه کوي چې تر ۲۰۲۷م کال پورې خپل تولیدي ظرفیت ۵ میلیونه بېرله په ورځ کې ورسوي. په داسې حال کې چې اوسنی تولیدي ظرفیت یې شاوخوا ۴٫۸۵ میلیونه بېرله په ورځ ته رسېږي، د اوپیک پلس د توافق له مخې د دې هېواد رسمي سهمیه شاوخوا ۳٫۴ میلیونه بېرله په ورځ ټاکل شوې وه؛ یعنې نږدې ۱٫۵ میلیونه بېرله د ظرفیت له مخې د سهمیې د محدودیتونو له امله نه استعمالېږي.[17] له همدې امله په اوپیک کې د اماراتو موجودیت ځینې وخت د تولید د زیاتوالي او د ملي عاید د ودې مخه نیسي.

### د اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو لاملونه

څرنګه چې د تیلو صادرونکو هېوادونو سازمان (OPEC) څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو لاملونه ډېر دي، موږ به یې په دوو اصلي برخو وویشو:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اوپیک څخه د اماراتو د وتلو اقتصادي عوامل

۱- د تېلو د تولید د سهمیې پر سر اختلاف: د اماراتو د نارضایتۍ له مهمو اقتصادي عواملو څخه یو د اوپیک او اوپیک‌پلس په چوکاټ کې د تولید د برخو پر سر اختلاف و. اماراتو په وروستیو کلونو کې د تېلو په صنعت کې میلیاردونه ډالر پانګونه وکړه او د تولید ظرفیت یې لوړ کړ، خو د اوپیک له خوا ټاکل شوې برخه د دې هېواد له واقعي تولیدي ظرفیت څخه ټیټه وه. ابوظبي باور درلود چې د برخو د محاسبې معیارونه زاړه دي او د اماراتو له اوسني تولیدي توان سره سمون نه لري. له همدې امله دې هېواد احساس کاوه چې د تولید لویه برخه یې نه کارېږي او د احتمالي تېلو عاید یې محدود شوی دی.[18]

۲- د تېلو په صنعت کې د پراخې پانګونې پروژه: ابوظبي ملي تېلو شرکت (ADNOC) په وروستیو کلونو کې د تېلو د میادینو د پراختیا او د تولید د زیاتوالي لپاره سترې پروژې پیل کړې دي. په دې پروژو کې د استخراج د زېربناوو پراختیا، د تصفیې د فابریکو د ظرفیت لوړول، او د بهرنیو پانګونو جذب شامل و. اماراتو باور درلود چې د اوپیک محدودیتونه د دې پانګونې اقتصادي ګټه راکموي. له همدې امله ابوظبۍ دې پایلې ته ورسېد چې د تولید د کچې په ټاکلو کې زیاته آزادي کولی شي هېواد ته زیات اقتصادي ګټه ورسوي.

۳- د نړیوال بازار د ونډې ساتلو لپاره سیالي: امارات اندېښنه لرله چې د اوپیک محدودیتونه به په اوږدمهال کې د دې هېواد د نړیوال بازار ونډه کمه کړي. په وروستیو کلونو کې لوی تولیدوونکي لکه متحده ایالات، کاناډا او برازیل خپل د تېلو تولید زیات کړی او د نړیوال بازار سیالي لا سخته شوې ده. ابوظبۍ وېره لرله چې که د اوپیک د محدودوونکو پالیسیو پابند پاتې شي، نو ښایي خپل یو شمېر مشتریان او د صادراتو بازارونه له لاسه ورکړي.

۴- د انرژۍ د راتلونکي بازار په اړه اندېښنه: د اماراتو له مهمو اندېښنو څخه د نړیوال انرژۍ د بازار نامعلوم راتلونکی و. د نړیوالو انرژۍ ادارو راپورونه ښیي چې نړۍ ورو ورو د تجدید وړ انرژۍ پر لور روانه ده او پر فوسیل سون توکو تکیه کموي. د برقي موټرو وده، د کاربن د کمولو پالیسۍ او په پاکې انرژۍ پانګونه د تېلو د بازار راتلونکی له شک سره مخ کړی دی. په داسې شرایطو کې امارات هڅه کوله چې د تېلو د نړیوالې غوښتنې د احتمالي کمېدو مخکې له خپلو تېلو څخه اعظمي اقتصادي ګټه واخلي. نو د انرژۍ د راتلونکي په اړه دا اندېښنه ابوظبۍ داسې سیاست ته یو وړ چې پکې د اوپیک د محدودوونکو ژمنو پر ځای د تولید ازادي ته لومړیتوب ورکړل شو.[19]

## د اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو د وتلو تر شا سیاسي او جیوپولیتیک عوامل

۱- د انرژۍ په سیاست کې د زیاتې خپلواکۍ تمایل: امارات په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې یوه خپلواکه بهرنۍ او اقتصادي پالیسي تعقیب کړي. ښایي دا هېواد نه غوښتل چې د خپل انرژۍ مهمې پرېکړې په بشپړ


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ډول د اوپيک د ګډو توافقاتو تابع وساتي. ابوظبی ممکن باور لري چې د خپل سيمه‌ييز او نړيوال دريځ د ساتلو لپاره بايد د تېلو او صادراتو په سياست کې لا زياته آزادي ولري.

۲- له سعودي عربستان سره اختلافات: که څه هم امارات او سعودي عربستان نږدې سيمه‌ييز متحدان دي، خو په وروستيو کلونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ سيالي زياته شوې ده. دا سيالي په اقتصادي، تجارتي، انرژۍ او حتی ځينو سيمه‌ييزو مسايلو لکه د يمن جګړه کې ليدل کېږي. امارات داسې احساس کاوه چې د اوپيک جوړښت تر ډېره د سعودي تر نفوذ لاندې دی او ډېري مهمې پرېکړې د رياض د ګټو په رڼا کې کېږي.

۳- د اوپيک‌پلس په چوکاټ کې د روسيې د رول په اړه د نظر اختلاف: د اوپيک‌پلس له جوړېدو وروسته روسيه د تېلو په سياست کې يو مهم لوبغاړی شو. امارات د دې اندېښنه لرله چې د اوپيک‌پلس پرېکړې د روسيې د ګټو تر اغېز لاندې راځي، په داسې حال کې چې امارات له امريکا او لوېديځو هېوادونو سره نږدې اړيکې لري. همدارنګه د اوکراين جګړې او پر مسکو د لوېديځ بنديزونو هم د اوپيک‌پلس د همکارۍ فضا لا پېچلې کړه او ابوظبی ښايي نه غوښتل چې د انرژۍ سياست يې د روسيې د جيوپوليتيکي بحرانونو تر اغېز لاندې وي.

۴- امارات‌محوري سياست: په وروستيو کلونو کې امارات داسې پاليسي تعقيب کړې چې د ملي ګټو لومړيتوب ته يې زيات اهميت ورکول کېږي. دا چلند د سيمه‌ييزو دوديزو چوکاټونو څخه د کمې تړلتيا او د تصميم نيونې د زياتې خپلواکۍ معنا لري. په داسې فضا کې په هغه جوړښت کې پاتې کېدل چې د هېواد اقتصادي او د تېلو آزادي محدودوي، د اماراتو له ستري ستراتيژۍ سره سمون نه درلود.

۵- د جيوپوليتيکي دريځ د پياوړتيا هڅه: امکان لري امارات غواړي ځان د نړۍ د انرژۍ په بازار کې د يوه خپلواک او اغېزمن ځواک په توګه مطرح کړي. د تېلو په توليد او صادراتو کې زياته آزادي کولی شوای د امريکا، چين او هند په څېر لويو قدرتونو سره د اړيکو په پياوړتيا کې مرسته وکړي، ځکه چې د انرژۍ په سياست کې خپلواکي نړيوال نفوذ زياتوي.

٦- سيمه‌ييزې او امنيتي اندېښنې: د فارس خليج امنيتي بدلونونه، د امريکا او اسرائيل او ايران ترمنځ کړکېچونه، د هرمز تنګي د امنيت اندېښنې او د ايران له خوا د تېلو د زېربناوو پر ضد احتمالي ګواښونه، ښايي د اماراتو د انرژۍ په سياست اغېز کړی وي. که څه هم دا امنيتي موضوعات له اوپيک څخه د زياتې خپلواکۍ له تمايل سره هم تړاو لري.

۷- د اوپيک د دوديز نفوذ کمزوري کېدل: همدارنګه امکان شته چې امارات دې پايلې ته رسېدلی وي چې اوپيک نور د پخوا په څېر د نړيوال تېلو په بازار کې مطلق ټاکونکی ځواک نه دی. د غير غړو هېوادونو د توليد


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

زیاتوالی، د بدیلو انرژیو پراختیا او د نړیوال بازار بدلونونو د اوپیک نفوذ کم کړی دی. د ابوظبي له نظره، په داسې سازمان باندې زیاته تکیه چې نفوذ یې کم شوی، نور د هېواد اوږدمهاله ګټو ته ځواب نه شي ویلای.

### د متحده عربي اماراتو وتل او د اوپیک او نړیوال انرژۍ بازار لپاره د هغې پایلې

د اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو وتل په وروستیو کلونو کې د انرژۍ په نړیوال بازار کې یو له خورا مهمو پرمختګونو څخه دی، ځکه چې دا یوازې د اوپیک یو عادي غړی نه و، بلکې د خلیج د تېلو یو له لویو تولیدونکو څخه هم و چې د تولید زیاتولو لپاره یې د پام وړ اضافي ظرفیت درلود. له همدې امله، دې اقدام د اوپیک اعتبار او یووالي ته یو سمبولیک ګوزار ورکړ. اوپیک په تېرو لسیزو کې هڅه کړې وه چې د یوې همغږې او وړ اداري انځور وساتي، مګر د متحده عربي اماراتو په څېر هېواد وتلو دا تصور پیاوړی کړ چې د غړو ترمنځ داخلي اختلافات مخ په زیاتېدو دي او د سازمان دننه دودیز اجماع کمزوري شوې ده. پدې حالت کې، دا پرمختګ ممکن په همغږۍ سره د تېلو بازار اداره کولو لپاره د اوپیک وړتیا باندې باور کم کړي.

د دې پرمختګ یو له خورا مهمو پایلو څخه د اوپیک داخلي یووالي کمزوری کول دي. په تېرو وختونو کې، د اوپیک ځواک په لویه کچه د خپلو مهمو غړو ترمنځ همغږۍ پورې اړه درلوده؛ مګر د تولیدي برخو، اقتصادي سیالۍ او د انرژۍ ستراتیژیو کې توپیرونو په اړه اختلافات د دې لامل شوي چې ځینې غړي نور خپلې ګټې په بشپړ ډول د سازمان د ګډو پالیسیو په چوکاټ کې ونه ګوري. د متحده عربي اماراتو وتل دا امکان زیاتوي چې نور هېوادونه به هم په راتلونکي کې ورته چلند تعقیب کړي، په ځانګړي توګه هغه هېوادونه چې د تولید لوی ظرفیتونه لري او احساس کوي چې د اوپیک محدودیتونه د دوی د اقتصادي ګټو د پراختیا مخه نیسي. که دا چلندونه دوام ومومي، اوپیک ممکن په تدریجي ډول خپل تاریخي یووالی له لاسه ورکړي او په نړیوال بازار کې به یې د معاملې ځواک کم شي. همدارنګه دا پوښتنه هم راپورته کېږي:

- آیا د اماراتو وتل د دې سازمان د تدریجي زوال د پیل نښه ده؟

ډیري کارپوهان په دې باور دي چې د اوپیک ځواک د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ لسیزو په پرتله کم شوی دی.[20] په هغه وخت کې، سازمان کولی شول د تولید کمولو یا زیاتولو سره نړیوال اقتصاد ته لوی ټکان ورکړي؛ مګر نن ورځ د تېلو بازار د پخوا په پرتله د غیر اوپیک فکتورونو لخوا ډېر اغیزمن دی. په متحده ایالاتو کې د شیل تېلو تولید زیات شوی، د غیر اوپیک هېوادونو څخه د صادراتو زیاتوالی، د انرژۍ ټیکنالوژیو خپرېدل او د نړیوال مصرفي نمونو بدلول ددې باعث شوي چې د اوپیک وړتیا د بازار په بشپړ کنټرول کې محدوده کړي. له دې لید څخه ویلو شو چې، د متحده عربي اماراتو وتل یوازې یوه ملي پرېکړه نه ده، بلکې کولی شي په نړیوال انرژۍ سیستم کې د جوړښتي بدلونونه هم منعکس کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له اقتصادي پلوه، د متحده عربي اماراتو وتل ممکن د نړیوالو تېلو په بیو اوږدمهاله اغیز ولري. متحده عربي اماراتو په وروستیو کلونو کې د تولید ظرفیت زیاتولو کې ډېره پانګونه کړې او احتمال لري چې د اوپیک محدودیتونو څخه خلاصېدو په صورت کې د تېلو تولید زیات کړي. د نړیوال تېلو عرضه کې زیاتوالی کولی شي په اوږدمهال کې د تېلو په نرخونو باندې فشار راولي؛ په ځانګړې توګه که نور تولیدونکي هم د خپل بازار ونډې ساتلو لپاره تولید زیات کړي. خو په لنډمهاله کې، د تېلو بازار د جیوپولیټیکل بحرانونو له امله په پراخه کچه اغیزمن پاتې دی. جګړې، بندیزونه، په منځنۍ ختیځ کې تاوتریخوالی او د فارس خلیج څخه د انرژۍ رسولو د امنیت په اړه اندېښنې لاهم د تېلو د بیو د بدلولو کې پرېکړه کوونکی رول لوبوي او کولی شي د تولید د زیاتوالي اغیز په جزوي ډول کم کړي.

د متحده عربي اماراتو وتل کولی شي د انرژۍ په نړیوال بازار کې سیالي هم زیاته کړي. په وروستیو کلونو کې، د تېلو صادرونکو ترمنځ د نوي پیرودونکو د جذبولو او د بازار ونډو ساتلو لپاره سیالي زیاته شوې ده. متحده عربي امارات هڅه کوي چې د انرژۍ زیربناوو پراختیا، د صادراتو ظرفیت لوړولو او د پرمختللو ټیکنالوژیو په کارولو سره په نړیوال بازار کې خپل دریځ پیاوړی کړي. دا چلند ممکن نور هېوادونه هم وهڅوي چې تولید زیات کړي او ډېره سیالي وکړي. په داسې چاپیریال کې، د تېلو نړیوال بازار په تدریجي ډول د دودیز کنټرول شوي ماډل څخه لیرې او د ډېر خلاص او انعطاف منونکي سیالۍ په لور روان دی. دا مسله کولی شي د تېلو د بازار د اصلي تنظیم کونکې په توګه د اوپیک تاریخي رول په جدي توګه ننګوي.

په لویه کچه، د متحده عربي اماراتو د وتلو اغیزې د اوپیک څخه هاخوا اوړي او د نړیوال انرژۍ نظم راتلونکي سره تړاو لري. نړۍ د خپلو انرژۍ سرچینو تنوع کولو او په فوسیل سونګ توکو باندې د خپل انحصار کمولو په لور حرکت کوي. ډېري هېوادونه د نوي کېدونکي انرژۍ، بریښنایی موټرو او پاکو ټیکنالوژیو په برخه کې ډېره پانګونه کوي او دا ستراتیژي کولای شي په راتلونکو لسیزو کې د تېلو نړیواله غوښتنه کمه کړي. په داسې شرایطو کې، د تېلو بډایه هېوادونه هڅه کوي چې د نړۍ په راتلونکي اقتصاد کې په خپل ځای بیا کتنه وکړي. د اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو وتل د دې پراخ بدلون د یوې برخې په توګه لیدل کیدی شي؛ یو چې ښیي چې د تېلو تولیدونکي هېوادونه د نوي نړیوال انرژۍ نظم سره د ډېر انعطاف، ډېره خپلواکه سیالي او تطابق په لټه کې دي.

**پایله**

د اوپیک د جوړښت او په دې سازمان کې د متحده عربي اماراتو دریځ ته کتنه ښیي چې د متحده عربي اماراتو وتل یوازې د تولیدي برخو په اړه یوه لنډمهاله پرېکړه یا تخنیکي اختلاف نه و، بلکې د نړیوال انرژۍ اقتصاد او په فارس خلیج کې د ځواک د بدلیدونکي توازن په جوړښت کې د ژورو بدلونونو انعکاس و.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په تېرو لسیزو کې، اوپیک وکولی شو د خپلو غړو ترمنځ د همغږۍ له لارې د نړۍ د تېلو بازار اغیزمن کړي او حتی د لویو قدرتونو په اقتصاد فشار راوړي؛ لیکن، د متحده ایالاتو د شیل تېلو وده، د نوي کېدونکي انرژۍ پراختیا، د نړیوالې سیالۍ زیاتوالی او د غړو ترمنځ داخلي شخړو په څېر پرمختګونو د سازمان دودیز نفوذ په تدریجي ډول کم کړی دی. په داسې شرایطو کې، متحده عربي امارات دې پایلې ته ورسېد چې د دوي نوي اقتصادي او ستراتیژیکې ګټې نور د اوپیک د دودیز چوکاټ سره په بشپړه توګه سمون نه لري.

د متحده عربي اماراتو د وتلو تر شا د اقتصادي او جیوپولیتیک عواملو تحلیل ښیي چې ابوظبۍ هڅه کوله چې ستراتیژیکه خپلواکي او په خپله انرژي پالیسي کې ډېر انعطاف زیات کړي. د تېلو د تولید ظرفیت لوړولو لپاره د هېواد پراخه پانګونه، د تېلو د نړیوالې غوښتنې د راتلونکي په اړه اندیښنې او د نړۍ د تېلو وروسته دورې ته د ننوتلو دمخه د عاید اعظمي کولو هڅې د دې پرېکړې تر شا تر ټولو مهم اقتصادي عوامل دي. سربېره پردې، په فارس خلیج کې اقتصادي او جیوپولیتیک مشرۍ لپاره د اوپیک غړو ترمنځ سیالې، سیمه ییزې شخړې، د یمن جګړه او د لویدیځ سره د متحده عربي اماراتو نږدې اړیکې د دې پرمختګ لپاره سیاسي او ستراتیژیک شرایط پیاوړي کړي دي. له همدې امله، د متحده عربي اماراتو وتل د هېواد د لویې ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه لیدل کېدی شي ترڅو په سیمه ییز او نړیوال نظم کې په خپل دریځ کې بیا کتنه وکړي؛ یوه ستراتیژي چې د پرېکړې کولو خپلواکۍ، اقتصادي تنوع او په نړیوال انرژۍ بازار کې ډېر فعال شتون پر بنسټ ولاړه وي.

په پایله کې، د دې پرمختګ پایلې یوازې متحده عربي اماراتو یا اوپیک پورې محدودې ندي، بلکې د نړیوال انرژۍ نظم راتلونکي باندې هم اغیزه کوي. د متحده عربي اماراتو وتل یوه نښه ده چې د تېلو نړیوال بازار په تدریجي ډول د ډله ییز کنټرول پر بنسټ د دودیز جوړښت څخه لیرې کېږي او ډېر خلاص او انعطاف منونکي سیالۍ په لور روان دی. که څه هم اوپیک به د انرژۍ په بازار کې یو لوی لوبغاړی پاتې شي، خو نور به د تېرو لسیزو په څېر ځواک نه وي او باید د نویو نړیوالو واقعیتونو سره تطابق وکړي. په ورته وخت کې، د تېلو بډایه هېوادونه هم هڅه کوي چې په نړیوال اقتصاد کې د تېلو د احتمالي کمښت دمخه خپل اقتصادي او جیوپولیتیک دریځونه پیاوړي کړي. له دې لید څخه، د اوپیک څخه د متحده عربي اماراتو وتل د منفردې پېښې په توګه نه لیدل کېدی شي، بلکې د نړیوال انرژۍ سیستم کې د بدلون د لویې پروسې او د نړۍ د اقتصادي او جیوپولیتیک سیالۍ نوي پړاو ته د تدریجي لیږد د یوې برخې په توګه لیدل کېدی شي.

## سرچینې

[1] نفت شیل در ایالات متحده: به نفتی گفته می‌شود که از لایه‌های سنگی شیل در امریکا استخراج می‌گردد. این نوع نفت با استفاده از فناوری‌هایی مانند حفاری افقی و شکست هیدرولیکی (Fracking) تولید می‌شود. افزایش تولید نفت شیل در

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ایالات متحده، امریکا را به یکی از بزرگ‌ترین تولیدکنندگان نفت در جهان تبدیل کرده و توازن بازار جهانی انرژی و سیاست‌های اوپیک را تحت تأثیر قرار داده است.

[2] "Brief History," Organization of the Petroleum Exporting Countries (OPEC), Accessed May 16, 2026, link:

[3] Encyclopaedia Britannica – OPEC. "OPEC," Accessed May 17, 2026, link:

[4] "Brief History," Organization of the Petroleum Exporting Countries (OPEC) – Brief History, Accessed May 17, 2026, link:

[5] حظر النفط العربي عام 1973 بسبب حرب أكتوبر، الجزيرة نت، متاح على:

[6] اوپک با سیستم جدید سهمیه‌بندی نفت، رقابت سرمایه‌گذاری میان اعضا را شعله‌ور کرد، مجله اطلاعات روز، 14 قوس 1404، در دسترس:

[7] أوبك.. من تكتل نفطي إلى لاعب محوري في توازنات الطاقة، الجزيرة نت، 28\4\2026، متاح على:

[8] Economy of Saudi Arabia, *Britannica Money*, Accessed May 17, 2026, link:

[9] استاد منير، العايب، 2018، دور النفط الصخري والاتفاق النووي في استقرار أسواق النفط، جامعة الجزائر: مجلة دولية محكمة نصف سنوية متخصصة في العلوم القانونية والسياسية، العدد12، ص 219. متاح على:

[10] أوبك بلس.. تحالف دولي وسع تأثير الدول المنتجة للنفط، الجزيرة نت، 28\4\2026، متاح على:

[11] أوبك.. من تكتل نفطي إلى لاعب محوري في توازنات الطاقة، الجزيرة نت، 28\4\2026، متاح على:

[12] أبوالطرابيش، أحمد، وداعا أوبك.. محطات في مسار الإمارات داخل أكبر تكتل نفطي عالمي، الجزيرة نت، 28\4\ 2026، متاح على:

[13] سيمبسون، ريبيكا، التنويع الاقتصادي – نقطة قوة الإمارات، مركز دبى لبحوث السياسات العامة، 26 سپتمبر 2017، متاح على:

[14] ADNOC: https://adnoc.ae/ar/our-story/our-heritage

15 الإمارات و"أوبک" حقائق على هامش قرار الخروج، اقتصاد الشرق مع بلومبرغ، 28 ابریل 2026، متاح على:

[16] وزارة التغيير المناخي والبئة: استراتيجية الإمارات للطاقة المتجددة، متاح على:

[17] الإمارات و"أوبک" حقائق على هامش قرار الخروج، اقتصاد الشرق مع بلومبرغ، 28 ابریل 2026، متاح على:

[18] Ibid.

[19] International Energy Agency (IEA), "Outlook for Battery and Energy Demand," In *Global EV Outlook 2024*, Paris: IEA, 2024, Accessed May 23, 2026, link:

[20] Danielsen, Albert L, Britannica Money-OPEC, Last modified March 2, 2026, link:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پالیسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعالیت کوي.

**اړيکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000